AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۲/۲۰

# په ریل ګاډي کې تشناب کله جوړ شو؟

د ریل ګاډي مسافر (اوکهیل چندراسین) په ۱۹۰۹م کال کې د ریل افسر ته لاندې شکایتي خط ولیکه:
د ریل ښاغلی حوزوي افسره!

ما په ریل ګاډي کې سفر کاوه، د زیات خوراک له امله مې نس کې بد حالت شو، ریل ګاډی په احمدپور سټېشن ودرېده، زه د حاجت پوره کولو لپاره ښکته شوم. لا مې کیسه جاري وه چې د ریل ګاډی مسؤل شپېلی ووهله. د شپېلی اورېدو سره مې منډه وهل شروع کړل، په یو لاس کې مې لوټه او بل کې خپل لنګ نیولی و.

ریل ته تر رسېدو رسېدو پورې ځو ځایه وغورځېدم او په سټېشن کې موجودو ټولو ښځو او نرانو مې ستر عورت ولیده. په همدې منډو کې مې عزت هم له لاسه ورکړ او ریل ګاډی هم.

نو محترمه!

زما د دې هر اړخیزه تاوان لامل هماغه مسؤل دی، چې بې وخته یې شپېلی ووهله. باید چې قوي جرمانه پرې ولګیږي، که نه زه به ورځپاڼو ته د پېښې اړوند خبرونه ورکړم.

د اوکهیل دا خط اوس هم د دهلي ښار په ریل ارشیف کې خوندي دی، ځکه هغه تاریخي لیک دی چې په سبب یې انګریزانو د لومړي ځل لپاره په ریل ګاډي کې تشناب جوړ کړ.

ژباړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ